# د صحابۀ کرامو

# یو بنکلے ارمان

**08-June-2023**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

په 8 جون کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د صحابۀ کرامو یو ښکلے ارمان

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د انبیائے کرامو عَلَیہِمُ السَّلام مبارکې دُعاګانې
- ...د مسلمان اُمت د ترقئ اصلي لار
- ... د وخت بادشاه د فقیر په ښپو کښې
- ... د نیکانو خلقو یو څو مبارک عادتونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سینټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د نبيِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د **الله** د پاره په خپل مينځ کښې مَحَبَّت لرونکي چې کله ملاقات اوکړي او مُصافَحه اوکړي [يعني يو بل سره لاس ميلاؤ کړي] او په نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف اولولي نو د هغوئي د جُدا کيدو نه مخکښې به د دواړو مخکښني او راروان ګناهونه معاف کړے شي.[1]

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرود پڑھو | مُحِبّو پاؤ گے جنت میں گھر دُرود پڑھو (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته داخلوي. (3)

---

1 ... مسند ابی یعلی، ۳/۹۵، حدیث ۲۹۵۱

2 ... نورِ ایمان، صفحه:56 ملتقطاً۔

3 ... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حدیث:6895۔



www.dawateislami.net

اے عاشقانِ رَسُول! د ښو ښو نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❁ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به باآدبه کښینم ❁ ښه په توجُّه سره به بیان اورم ❁ څه چې اورم، د هغې د یادولو، په هغې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش به کووم.

## صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابۀ کرامو یو ښکلے خواهش

حضرت نجاشي رحمۃ اللہ علیہ کوم چې د حبشه بادشاه وو، او هغوئي د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم په ظاهري ژوند کښې د کلمې لوستلو سعادت حاصل کړے وو، هغۀ پخپله خو په څه سبب په بارګاهِ رسالت کښې حاضر نه شو، البته یو ځل ئې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم په خدمت کښې د 70 کسانو یوه ډله را اولیږله، هغه خلق چې کله په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شول نو د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم د هغوئي په وړاندې د سورۀ **یاسین** شریف تِلاوت اوفرمائیلو. هغوئي چې کله د خوږ مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم د خُلې نه د رُبُّ **العالمین** کلام واوریدو نو هغوئي ډیر ډیر اوژړل. د سوز نه داسې ډک تلاوت او اثرناکه کلام ئې چې واوریدو نو د هغوئي سینې روښانه شوې او هغوئي ټولو کلمه اولوستله او مسلمانان شول. (1)

کله چې هغه خوش قِسمتو حضراتو د صحابیت درجه حاصله کړه او واپس حبشه

[1] ...مواہب اللدنیہ، المقصد الثانی، الفصل السادس، جلد:1، صفحہ:444ملتقطاً۔

ته لاړل نو د هغه ځائے کافرو دوئي له پیغورونه ورکول. په دې باندې چې دغه خوش قسمتو صحابۀ کرامو علیهم الرّضوان کافرو له کوم جواب ورکړو، **اللّٰه** پاک د هغوئي هغه جواب په قرآنِ کریم کښې ذِکر کړو،[1] ارشاد کیږي:

وَ مَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ مَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَ نَطْمَعُ اَنْ یُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۸۴﴾ (پارہ:7، سورۂ مائدہ:84)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: او په مونږ څه شوي دي چې مونږه په **اللّٰه** او په هُغه حق ایمان رانوړو کوم چې مونږ ته راغلو او مونږ طمع لرو چې زمونږه **رب** به مونږه د نیکو خلقو سره جَنَّت ته داخل کړي.

یعني مونږ په **اللّٰه** پاک او د هغه په رښتوني او آخري نبي صلَّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې ایمان ولې رانوړو؟ کله چې هغه حق مونږ ته راغلو او مونږه هغه اوپیژندو هم، بیا په ایمان راوړو کښې رکاوټ څه دے؟ (اے کافرو! تاسو زمونږه په اسلام قبلولو باندې اعتراض کوئ حالانکه) زمونږه حال دا دے چې هغه خوش قسمته صحابۀ کرام علیهم الرّضوان کومو چې زمونږ نه مخکښې اِسلام قبول کړو، هغوئي زمونږ نه زیاتې نیکۍ هم اوکړې، زمونږ نه مخکښې ئې د اسلام ډیر ډیر خدمتونه هُم کړي دي او ډیره ترقي ئې هم کړې ده، آه! مونږه مخکښې ایمان رانوړے شو، مونږه د هغوئي برابر نیکۍ اونکړے شوې، اوس ارمان دے چې کاش! **اللّٰه** پاک په خپل رحمت سره مونږ په هغوئي کښې شامل کړي، کاش! چې مونږه په هُغه نیکانو خلقو کښې اوشمیرلے شُو.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! دا څومره ښکلے خواهش دے،

[1]... تفسیرِ مدارک، پارہ:7، المائدۃ، زیرِ آیت:84، جلد:1، صفحہ:469۔
[2]... تفسیرِ نعیمی، پارہ:7، سورۂ مائدہ، زیرِ آیت:84، جلد:7، صفحہ:27، 29 خلاصۃً۔

خومره ښکلے ارمان دے چې کاش! **الله** پاک مونږ په مخکښینو نیکانو خلقو کښې شامل کړي. د **الله** پاک د دې نوو مسلمانانو شوو صحابۀ کرامو علیھم الرّضوان دا جواب، د هغوئي دا ښکلې ښکلې جملې او د هغوئي دا ښکلے ارمان دومره خوښ شو چې **رَبِّ** کائنات عزّوجلّ دا په قرآنِ کریم کښې ذِکر اوفرمائیلو او د هغوئي دا ارمان ئې قبول کړو او اوئې فرمائیل:

فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ وَ ذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۸۵﴾ (پارہ:7، سورۂ مائدہ:85)

[مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالعِرفان: نو **الله** د هغوئي د دې وینا په بدله کښې هغوئي ته هٰغه باغونه عطا کړل چې د هغو نه لاندې نهرونه بهیږي، همیشه به په هغې کښې اوسیږي، او دا د نیکو خلقو بدله ده۔

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃُ اللہِ علیہ د دې آیت لاندې فرمائي: د دې آیت نه معلومه شوه چې د ښو خلقو ملګرتیا او په نیکانو په ډله کښې داخلیدل د **الله** پاک لوئے نعمت دے، نوره دا هم معلومه شوه چې **الله** پاک نکته نواز دے، که اوغواړي نو د یو ښه لفظ په برکت د بنده ټول ګناهونه معاف کړي او دوزخي جنتي جوړ کړي، اوګورئ! دې نوو مسلمانانو شوو صحابۀ کرامو علیھم الرّضوان (خپل ارمان ظاهر کړو او) صرف دومره ئې اوویل:

وَ نَطْمَعُ اَنْ یُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۸۴﴾ (پارہ:7، سورۂ مائدہ:84)

[مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالعِرفان: او مونږ طمع لرو چې زمونږه **رب** به مونږه د نیکو خلقو سره جَنَّت ته داخل کړي۔

د هغوئي دا خبره د **اللّٰه** پاک خوښه شوه او **رَبِّ** کائنات عَزَّ و جَلَّ هغوئي د جنّت وارثان جوړ کړل.

یَااللّٰہُ! یارَحْمٰنُ! | یاحَنَّانُ! یامَنَّانُ!
بخش دے بخشے ہوؤں کا صدقہ | یَااللّٰہُ! مری جھولی بھر دے
واسطہ نبیوں کے سرور کا | واسطہ صِدّیق اور عمر کا
واسطہ عثمان و حَیدر کا | یَااللّٰہُ! مری جھولی بھر دے
سائِل ہوں میں تیری وِلا کا | پھیر دے رُخ ہر رنج و بلا کا
واسطہ شاہِ کرب و بلا کا | یَااللّٰہُ! مری جھولی بھر دے

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام مبارکې دُعاګانې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه د قرآنِ کریم یو څو آیتونه او د هغې په لړ کښې د بیان شوې واقعې اوریدو سعادت حاصل کړو، د دې آیتونو نه د زده کولو ډیرې خبرې دي، ډیر سبقونه پکښې موجود دي، البته یوه ډیره اهمه نکته په کومه چې خاص طور مونږ ته غور کول او په دې باندې د ځان پوهولو کوشش کول دي، هغه د دې نوو مسلمانانو شوو صحابۀ کرامو علیھم الرّضوان دا ښکلے ارمان دے:

وَ نَطْمَعُ اَنْ یُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۸۴﴾ (پارہ:7، سورۂ مائدہ:84)

[مَفہوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او مونږ طمع لرو چې زمونږه **رب** به مونږه د نیکو خلقو سره جَنَّت ته داخل کړي.

دا داسې د کمال او دومره بے مثاله ارمان دے چې د دې ښومره هم فضيلتونه بيان کړے شي، د دې چې ښومره هم برکتونه بيان کړے شي کم دي، د دې بے مثاله ارمان ا هميت اندازه د دې ځائے نه اولګوئ چې انبيائے کرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام ...!! د کائنات د ټولو نه د اوچتې مرتبې والا هستيانې...!! د هغوئي نه زيات ښوک نيک، د هغوئي نه زيات ښوک متقي، د هغوئي نه زيات ښوک پرهيزګاره کيدے شي، د هغوئي نه زيات د **اللّٰه** پاک قرب حاصلوونکے ښوک هم نشي کيدے، د دې باوجود به ابنيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام عاجزي کوله او د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې به ئې دا دُعا کوله چې مولىٰ! مونږه زمونږ نه مخکښنينو نيکانو بندګانو کښې شامل کړې.

❀ مثلاً د **اللّٰه** پاک نبي حضرت يوسف عَلَيۡهِ السَّلَام په بارګاهِ اِلٰهي کښې عرض اوکړو:

وَّ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ ﴿۱۰۱﴾ (پاره:13، سورۀ يوسف:101)

[مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالعِرفان: او ما د خپل قُرب لائقو بندګانو سره شامل کړې.

❀ هم دغه شان حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلَام دُعا اوکړه:

وَ اَدۡخِلۡنِیۡ بِرَحۡمَتِكَ فِیۡ عِبَادِكَ الصّٰلِحِیۡنَ (پاره:19، سورۀ نمل:19)

[مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالعِرفان: او ما په خپل رحمت په خپلو هغه بندګانو کښې شامل کړې کوم چې ستا د خاص قُرب لائق دي.

❀ د **اللّٰه** پاک نبي حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام دُعا اوکړه:

رَبِّ هَبۡ لِیۡ حُكۡمًا وَّ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ ﴿۸۳﴾ۙ (پاره:19، سورۀ شعراء:83)

[مَفهُوم]ترجمۀ کنزُالعِرفان: اے زما رَبه! ما ته حِکمت راعطا کړې او ما هغوئي سره يو ځائے کړې کوم چې ستا د خاص قُرب لائق بندګان دي.

اَللّٰهُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اندازه اولګوئ! د نيکانو خلقو په لاره د تللو

خواهش کول، د نیکانو خلقو مشابهت اختیارول څومره اهم کار دے. حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام د **الله** پاک نبي دے، هغوئي خلیل الله دے، اَبُو الانبیاء دے، په ټولو مخلوقاتو کښې د ټولو نه افضله هستي زمونږه آقا او مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے او د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه چې کوم افضل دے هغه حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام دے خو غور اوکړئ! د دومره اوچتې مرتبې لرلو باوجود حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام څه دعا اوکړه؟

وَّ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ ﴿۸۳﴾

(پاره:19، سورۂ شعراء:83)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: او ما هغوئي سره یو ځائے کړې کوم چې ستا د خاص قُرب لائق بندګان دي.

یقیناً د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام دا دعاګانې زمونږ د تعلیم د پاره دي، په دې کښې مونږ ته دا رازده کړے شوي دي چې د صالحانو یعنې د نیکانو خلقو په لاره باندې تلل، د هغوئي مشابهت اختیارول د **الله** پاک ډیر خوښ کار دے.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په اوسني دور کښې چې معاشره په کومه لاره روانه شوې ده، په داسې حالاتو کښې دا خواهش په زړه کښې د زیاتولو ډیر ضرورت دے، زمونږ د ټولو په زړه کښې دا ارمان ضرور پکار دے چې کاش! **الله** پاک مونږه په نیکو خلقو کښې شامل کړي.

## د مسلمان اُمت د ترقئ اصلي لار

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! یو وخت وو چې مسلمانان په شمیره کښې کم وو خو عروج او ترقي او کامیابي په هر میدان کښې د هغوئي نصیب کیدله خو افسوس! نن مسلمانان په کروړونو، اربونو دي خو غیر مسلمه هر ځائے غالبه دي، په ټوله دنیا

کښې مسلمانان تقريباً په هر ځائے کښې د تنزلئ ښکار دي. په دې ټولو حالاتو کښې اصلي بنيادي وجه دا ده چې نن مسلمانانو د خپلو اسلافو (د مخکښينو بزرګانِ دين، د **اللّٰه** پاک د نيکانو بندګانو) لاره پريښودې ده او غير قومونه ئې خپل آئيډل جوړ کړي دي خو ياد ساتئ! مسلمان اُمت د نورو ټولو قومونو نه مختلف دے:

اپنی مِلّت پر قِیاس اَقْوامِ مغرب سے نہ کر | خاص ہے ترکیب میں قَوْمِ رَسُولِ ہاشمی

يعنې د مسلمان اُمت مزاج د نورو ټولو قومونو نه مختلف دے، مونږ که د دنيا کومه معاشره، کوم قوم هم، کوم ملک هم خپل آئيډل جوړ کړو، مونږ به هيڅکله هم ترقي اونکړے شو؟ ولې...!! ځکه چې د مسلمان اُمت د ترقئ لاره بَله ده، د نورو قومونو د ترقئ لاره بَله ده.

دا خبره ډيره اهمه، د پوهې او په ذهن کښې د اچولو ده چې زمونږه او د نورو قومونو لاره هم بدله ده او منزل مو هم بدل دے. کيدے شي چې د دنيا نورو قومونو ته د هغوئي په **مستقبل** کښې ترقي ميلاويږي خو د مسلمان اُمت ترقي په **مستقبل** کښې نه بلکه په **ماضي** [يعنې په تير وخت] کښې ده، هميشه ياد ساتئ! **مونږ چې څومره د خپلې ماضي په لور ځو، مونږ ته به هغه همره ترقي ميلاويږي.**

اوګورئ! په برصغير کښې مسلمانانو د غلامئ ژوند تيرولو، مسلمانان د ظلم په جرنده کښې دَل کيدل، پرله پسې د پستئ ښکار وو، ډاکټر اقبال د دې پستئ اسباب بيان کړل، هغه ليکي:

کس کی آنکھوں میں سمایا ہے شعارِ اَغیار؟ | ہو گئی کس کی نگہ طرزِ سلف سے بیزار؟
حیدری فقر ہے، نے دولتِ عثمانی ہے | تم کو اَسلاف سے کیا نسبتِ روحانی ہے؟

یعني مسلمانان کوم چې د غلامۍ په جرنده دَل کیږي، مسلمانان کوم چې د تنزلۍ ښکار دي، په اصل کښې د دې وجه دا ده چې دوئي د خپلو اسلافو لاره پرېښودې ده، نورو قومونو ته ئې سترګې نیولې دي. خو رښتیا دا دي چې مسلمان اُمت په خپل ترکیب، خپل مزاج کښې د نورو ټولو قومونو نه بدل دے، ځکه ❀ که چرې مسلمان ترقي کول غواړي نو دوئي ته به د اسلافو سره خپل نسبت قائمول وي ❀ مسلمان ته دا نه دي کتل پکار چې په فلانکي ملک کښې څه کیږي، مسلمان له دې ته کتل پکار دي چې غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ به څنګه ژوند تیرولو ❀ مسلمان له دې ته نه دي کتل پکار چې نن په دنیا کښې کوم ټرینډ چلیږي، مسلمان له دې ته کتل دي چې داتا حُضور، خواجۀ اجمیر، اعلیٰ حضرت وغیره اولیائے کرامو، د **الله** پاک نیکانو بندګانو به څنګه ژوند تیرولو. غرض، مسلمانانو چې کله هم ترقي کړې ده، د خپلو اسلافو په لاره تللو کښې ئې کړې ده او بیا د پاره چې به کله هم ترقي کوي، د خپلو اسلافو په لاره تللو به ئې کوي. د دې نه علاوه زمونږ سره د ترقۍ او کامیابۍ بله هیڅ لار نشته. ځکه نن د دې خبرې ډیر ضرورت دے چې مونږه خپل اسلاف خپل آئیډیل جوړ کړو، د هغوئي په سیرت باندې د تللو، د هغوئي په شان د ژوند تیرولو، د هغوئي په شان د جوړیدو ډیر خواهش په خپل زړه کښې پیدا کړو، زمونږ په زړه او دماغو کښې هر وخت بس یو ارمان پکار دے چې **ما ته د الله** پاک **د نیکانو بندګانو په شان جوړیدل دي.** که چرې دا ښکلے ارمان زمونږ نصیب شي نو یقین اوکړئ! زمونږه دنیا به هم ښه شي او په آخرت کښې به مو هم بیړئ پورې اُوځي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## د نيکانو خلقو د مشابهت فضيلتونه

د **اللّٰه** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ** څوک چې د کوم قوم سره مشابهت لري، هغه هم په هغوئې کښې شميرلے شي. **(1)**

په يو حديثِ پاک کښې دي: **مَنْ اَعْجَبَهُ سَمْتُ رَجُلٍ فَهُوَ مِثْلُهُ** چا ته چې د چا طريقه ښه ښکاري، هغه هُم د هغه په مثال دے. **(2)**

**اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې حديثونو باندې بيا بيا غور اوکړئ! **چا ته چې د چا طريقه ښه ښکاري، هغه د هغه په مثال دے.** آه! هٰغه نادانه خلق کومو ته چې د فلمي اداکارانو سټائل ښه ښکاري، کومو ته چې د غير مسلمو انداز ښه ښکاري، کوم چې په ناسته، ولاړه کښې، ګرځيدو کښې، خوراک څښاک او اغوستلو وغيره کښې د غير مسلمو د فيشن لحاظ ساتي، آه! افسوس! د حديثِ پاک مطابق هغه د هغوئې په شان دي.

بل خوا څومره خوش قسمته دي هٰغه خلق د کومو چې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنتو سره محبت دے، چا ته چې د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان اداګانې ښې ښکاري، څوک چې د غوثِ پاک، داتا حُضُور، خواجه حُضُور، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم اداګانې خوښوي، هٰغه خوش قسمته کوم چې د خپلو بزرګانو، د **اللّٰه** پاک د نيکانو بندګانو سيرت لولي يا اوري نو د هغوئې په شان کيدو او د هغوئې د اداګانو خپلولو خواهش لري، د داسې خوش قسمتو څومره ښکلے شان دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: **چا ته چې د چا طريقه ښه ښکاري، هغه د هغه په شان دے.**

---

[1]...ابو داود، كتاب اللباس، باب فى لبس الشهرة، صفحه:635، حديث:4031۔

[2]...الجامع لاخلاق الراوی، الجزء الثانی، صفحه:58، حديث:208۔

## تۀ چې د چا سره محبت کوې، د هغوئي سره به ئې

صحابئ رسول، حضرت اَبُوذر غفاري رضی اللہ عنہ يو ځل په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم ! يو سړے دے، هغه د يو قوم سره محبت کوي خو د هغوئي په شان عمل نشي کولے (د هغه په باره کښې څه حکم دے؟) خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم اوفرمائيل: اَنْتَ يَااَبَاذَرٍّ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ يعنې اے ابوذره! تۀ (به د قيامت په ورځ) د هغه سره ئې، د چا سره چې تۀ محبت کوې. (1)

## د نيکانو خلقو سره د مشابهت ديني او دنيائي فائدې

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! غور اوکړئ! د صالحانو (يعنې د الله پاک د نيکانو بندګانو) په شان کيدو خواهش او کوشش کولو څومره فضيلت دے....!! علماء فرمائي: ❁ صالحان (يعنې نيکان بندګان) آئيډيل جوړول په سُنتِ مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم باندې د تللو وسيله ده ❁ د نيکانو خلقو د آئيډيل جوړولو په برکت سره د الله پاک خاص مدد او نصرت ميلاويږي ❁ د نيکانو خلقو د آئيډيل جوړولو په برکت سره د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم خصوصي شفقت نصيب کيږي ❁ څوک چې نيکان آئيډيل جوړوي، په هغه باندې د الله پاک رحمت وريږي ❁ څوک چې نيکان آئيډيل جوړوي، د هغه، د هغه د بال بچ، تر دې چې د هغه د ګاؤنډيانو هم حفاظت کيږي ❁ څوک چې نيکان آئيډيل جوړوي، د هغه دعاګانې قبليږي ❁ د نيکانو خلقو د لارې خپلولو په برکت سره په دنيا کښې خير ❁ ښه او پاک ژوند ❁ د نيکو اعمالو توفيق او ❁ د الله پاک معرفت نصيب کيږي ❁ او څوک خوش قسمته چې نيکان

1...ابوداؤد، کتاب الادب، باب اخبار الرجل الرجل...الخ، صفحہ:800، حدیث:5126۔

خلق آئیډیل جوړوي، هغه ته د قبر په امتحان کښې ثابت قدمي، د محشر د وحشت نه امان، په پل صراط باندې نجات او په جنت کښې د نیکانو خلقو ګاؤنډ نصیب کیږي. یو عربي شاعر څومره ښکلې خبره کړې ده:

اِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مِنْهُمْ فَتَشَبَّهُوْا | اِنَّ التَّشَبُّهَ بِالْكِرَامِ فَلَاحٌ ( 1 )

ترجَمه: که چرې تهٔ ځپله نیک نه ئې نو د نیکانو خلقو مشابهت اختیار کړه! بے شکه د نیکانو خلقو مشابهت اختیارول هم فلاح او کامیابي ده.

## د وخت بادشاه د فقیر په قدمونو کښې

اورنګ زیب عالمګیر رحمۃ اللہ علیہ د **اللّٰہ** پاک نیک بنده وو، د مغلیه سلطنت بادشاه هم وو او سیدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د هغوئي په باره کښې فرمائیلي دي چې هغوئي د خپل وخت مُجَدِّد هم وو. یو ځل د بادشاه اورنګ زیب رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې یو ګس حاضر شو او عرض ئې اوکړو: بادشاه سلامت! زه خبر شوے یم چې ستاسو په دربار کښې د هنرمندو ډیر قدر کولے شي؟ بادشاه سلامت اوفرمائیل: آو! بالکل هم داسې ده، د هنرمندو قدر پکار دے او دلته کیږي هُم. هغه ګس عرض اوکړو: عالي جناب! زه یو بهروپیا [شکل او انداز بدلوونکے] یم، ما له **اللّٰہ** پاک یو داسې صلاحیت راکړے دے چې زه د هر چا شکل اختیارولے شم او ما مخامخ ګس نشي پیژندے (دا فن ***Intelligence agency*** [اینټیلیجینس ایجنسي] یعنې د ملک د خفیه ایجنسۍ د پاره هم ډیر پکار راځي) بادشاه اورنګزیب رحمۃ اللہ علیہ د هغه خبره واوریدله او اوئې فرمائیل: ټیک ده، تهٔ خپل فن ما ته اوښایه! په کومه ورځ چې تا ځان داسې کړو چې زه تا اونه پیژنم، په هُغه ورځ به تا

1... حُسْنُ التَّنَبُّهِ لِمَاوَرَدَ فِی التَّشَبُّهِ، جلد:2، صفحه:144۔

له زه انعام درکووم. هغه ګس په ادب سره سلام اوکړو او لاړو. لږې ورځې تیریدې، بادشاه سلامت بیمار شو، ټول ملک کښې خبر خور شو، یوه ورځ دربان د بادشاه سلامت په خدمت کښې عرض اوکړو: عالي جاه! ستاسو د بیمارئ خبر ایران ته هم رسیدلے دے، د ایران بادشاه ستاسو د علاج د پاره یو طبیب رالیږلے دے، کوم چې بهر په دروازه کښې دے، که حکم وي چې هغه په خدمت کښې حاضر کړم. بادشاه سلامت طبیب ته د دننه راتللو اجازت ورکړو، په درنګ ساعت کښې یو طبیب صاحب دربار ته راغلو، غټه شان **چُغه** ئې اچولې ده، په سر باندې ئې غټ دستار تړلے دے، وروستو وروستو ورپسې د غلامانو یو قطار دے، کومو چې په سرونو باندې د دوایانو بکسې کیښودې دي. طبیب صاحب د بادشاه په خدمت کښې سلام عرض کړو او په ادب ئې ورله لاسونه ښکل کړل نو بادشاه مُسکے شو او اوئې فرمائیل: ما ته اوپیژندلې، تهٔ طبیب نه ئې، هغه بهروپیا [شکل بدلونکے ګس] ئې. په دې خبره بهروپیا ډیر شرمنده شو او د بیا کوشش کولو ئې اووئیل او لاړو.

څه ورځې تیرې شوې د وړوکي اختر ورځ راغله، د اختر د لمونځ نه پس دربار اولګولے شو، بادشاه سلامت په تخت باندې تشریف کیښودو، د ګیر چاپیره ملکونو نه راغلې تحفې د بادشاه سلامت په خدمت کښې وړاندې کیدلې، په دې وخت کښې یو کس را وړاندې شو، عرض ئې اوکړو: عالي جاه! زه د فلانکي مُلک استازے یم، زمونږه بادشاه سلامت ستاسو د پاره یوه نایابه هیرا په تحفه کښې رالیږلې ده، دا ئې چې اووئیل نو هغه د تحفې د ډبې نه سر لرې کړو او [تُحفه ئې] بادشاه سلامت ته ئې وړاندې کړه. بادشاه اورنګ زیب رحمۃ اللہ علیہ بیا مسکے شو او اوئې فرمائیل: په دې ځل هم ما تهٔ اوپیژندلې، تهٔ هم هغه بهروپیا [شکل بدلوونکے] ئې. هغه بیا ډیر شرمنده شو، او په زړه

کښې ئې ټخه اراده اوکړه چې په دې ځل به داسې شکل اختياروم چې بادشاه سلامت به مې هډو اونه پيژني.

د دې واقعې ډيرې ورځې اوشوې، بيا يوه ورځ بادشاه سلامت لښکر د ځان سره کړو او د جنګ د پاره روان شو، بادشاه اورنګ زيب رَحْمَةُاللهِعَلَيه پخپله هم د **الله** پاک نيک بنده وو او د هغه د اوليائے کرامو سره عقيدت هم ډير وو، بادشاه سلامت د لښکر سره په سفر وو، په لاره کښې چې به چرته چرته د کوم ولئ کامِل مزار راتللو، بادشاه سلامت به لښکر اودرولو او مزار شريف ته به ئې په ادب سره حاضري کوله، دعا به ئې کوله او د اوليائے کرامو د فيضان حاصلولو سره به مخ په وړاندې تللو. روان وو چې يوې غريځې علاقې ته اورسيدو، بادشاه سلامت اوکتل چې د يو غر په لــمن کښې په زرګاؤ خلق راجمع دي. ډير حيران شو چې په دې شړه علاقه کښې دومره ګڼه د څه د پاره ده؟ خير! معلومات حاصل کړے شول نو پته اولګيده چې د **الله** پاک څوک نيک بنده دے، کوم چې د دې غر په غار کښې اوسيږي، ډير د کمال والا بزرګ دے، هر وخت ئې د **الله** پاک په ياد کښې سترګې پټې وي او ناست وي. دا ټول خلق د لرې لرې نه د هغه د زيارت د پاره حاضر شوي دي. دا ئې چې واوريدل نو د بادشاه سلامت په زړه کښې هم د زيارت شوق را اوچت شو، هغه لښکر اودرولو، شپه ئې هم هلته تيره کړه، سحر بادشاه سلامت تازه غسل اوکړو، نوې جامې ئې واغوستې، د نيک بنده په خدمت کښې د حاضرئ د پاره ئې ادباً دوه رکعته نفل ادا کړل، بيا ئې ښپې ابله ښپې غار ته تشريف يوړلو، اوئې کتل چې يو باباجي سترګې پټې کړې دي او ناست دے، بادشاه سلامت په ادب سره لاس په نامه ورنزدې شو او کښيناستلو، ډير وخت ناست وو، څه خبره کول خو غټه خبره ده باباجي دومره سترګې هُم را اُونه غړولې چې بادشاه ته ئې يو

نظر کتلي وے ، بادشاه سلامت ډير متاثره شو چې دا د دنيا نه ځنګه بے رغبتئ لرلو والا بزرګ دے، د وخت بادشاه راغلے دے او د ده پرې څه پروا هُم نشته، بس د **اللّٰه** پاک په ياد کښې مشغول دے.

د ډير وخت کښيناستو نه پس بادشاه سلامت د واپسئ اراده اوکړه، د خپل ځائے نه پاڅيدو او د نيک بزرګ د تعظيم په نيت سره د هغه د ښپو ښکلولو د پاره ور وړاندې شو، بادشاه سلامت ښپو له لاس وروړلو والا وو چې بابا جي د بادشاه سلامت لاس اونيولو او اوئې وئيل: بس! بادشاه سلامت...!! ما اوګټله، دا ځل تاسو زه اونه پيژندم (يعنې دا ګس څوک بزرګ نه وو بلکه هم هغه بهروپيا [شکل او انداز بدلوونکے] وو). بادشاه سلامت چې کله دا خبره واوريده نو يک دم حيران شو چې دا څه اوشو؟ ما چې څوک ډير لوئے بزرګ ګڼلو، هغه خو يو بهروپيه اوختلو.

خير! بادشاه سلامت د اشرفو تهيلئ راويستله او هغه ئې بهروپيا له ورکړه او اوئې وئيل: په دې ځل واقعي ده چې تا اوګټله، دا ستا انعام...!! خو اوس حالت بدل شوے وو، هغه بهروپيا په ادب سره اووئيل: بادشاه سلامت! اوس ما ته د دې سِيکو ضرورت نشته، زه څوک نيک انسان نه يم، ما بس يو څو ورځې د نيکانو خلقو مشابهت اختيار کړو، د نيکانو خلقو سره د دې يو څو ورځو د مشابهت دا برکت دے چې **اللّٰه** پاک د وخت بادشاه راوستلو او زما په ښپو کښې ئې اودرولو، که چرې زه واقعي د نيکانو خلقو په لاره روان شم نو په ما به د **اللّٰه** پاک څومره کرم اوشي. هغه سابِقه بهروپيه دومره اووئيل او د **اللّٰه** پاک د عبادت د پاره د ځنګل په لور روان شو. (1)

اے عاشقانِ رَسُول! اوګورئ! د نيکانو خلقو د خپل آئيډيل جوړولو او د هغوئې په

---

[1]...زلف وزنجير، صفحہ:349-356 باختلاف بعض الالفاظ۔

نقشِ سيرت باندې د تللو خومره برکتونه دي، هغه بهروپيا په دروغه د نيکانو خلقو لار اختيار کړې وه نو **الله** پاک هغه ته په حقيقت کښې د خپلو نيکو بندګانو لاره عطا کړه. مونږ له هم پکار دي چې مونږه د نيکانو خلقو د نقشِ سيرت نه رڼا واخلو، د خپلو اسلافو، صحابۀ کرامو، اوليائے کرامو، د **الله** پاک د نيکانو بندګانو سيرت اولولو، د هغوئي د صفتونو، د هغوئي د مبارکو عادتونو معلومات حاصل کړو، بيا د هغوئي په شان د جوړيدو په خاطر د هغوئي طور طريقې په عملي طور د خپلولو په کوشش کښې لګيا شو.

## خپل آئيډيل جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مشورې په طور يوه خبره عرض کووم چې د **الله** پاک يو نه يو نيک بنده خپل آئيډيل خامخا جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې به ډير برکتونه ميلاو شي. اوګورئ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دې دور کامياب ترين شخصيت دے، يقيناً دا په دوئي باندې د **الله** پاک کرم دے، البته په ظاهري لحاظ سره د هغوئي د کاميابئ چې کوم رازونه دي، په هغې کښې يو راز دا هم دے چې هغوئي د وخت ډير لوئے ولئ کامِل نائبِ غوثِ اعظم، عالِمِ باعمل، مجدد دين و ملت، پتنګ د شمعِ رسالت، امام اهلسنت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل آئيډيل جوړ کړے دے، هغوئي د پوره سوچ او فکر نه پس اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل آئيډيل جوړ کړے دے، بيا چې ئې کله خپل آئيډيل جوړ کړو نو د هغوئي په تعليماتو باندې کاربند هُم شولو.

مونږ له هم پکار دي چې مونږه څوک ولئ کامِل خپل آئيډيل جوړ کړو، ښه په

سوچ او فِکر سره ئې جوړ کړو، بیا ئې چې کله خپل آئیډیل جوړ کړو نو بیا د هغه په نقدشِ قدم باندې روان هُم شُو، کوم ولئ کامِل چې خپل آئیډیل جوړ کړو، د هغوئي سیرت اولولو، د هغوئي د اداګانو، د هغوئي د طور طریقو په باره کښې معلومات حاصل کړو او خپل ټول ژوند د هغوئي په نقشِ سیرت د تللو کوشش اوکړو. د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د نیکو اعمال توفیق هم رامیلاویږي، او ژوند به مو هُم ښکلے شي، د ګناهونو نه به مو حفاظت هم کیږي او که چرې **اللہ** پاک اوغوښتل نو په دنیا او آخرت کښې به مو بیړئ پوریوځي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان ، اولیائے کرامو، با عمله او عاشقانِ رسول علمائے کرامو په سیرت باندې ډیر کتابونه او لنډې رسالې چاپ کړې دي، لکه: فیضانِ صِدّیقِ اَکبَر، فیضانِ فاروقِ اعظم، اللہ والوں کی باتیں، غوثِ پاک کے حالات، حضرت عمر بن عبد العزیز کی 425 حکایات، وغیره ډیر زیات کتابونه دي، دا کتابونه حاصل کړئ! دا لولئ او د صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان او اولیائے کرامو ښکلې ښکلې اداګانې نوټ کوئ، بیا په هغې باندې د عمل کولو کوشش شروع کړئ. **اللہ** پاک دې مونږ ټولو له د عمل کولو توفیق راکړي.

## د نیکانو خلقو یو څو مبارک عادتونه

د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه صرف د 80 صفحو یو ډیر ښکلے کتاب دے: اَخْلَاقُ الصَّالِحِين. په دې کښې د اولیائے کرامو یو څو عادتونه ذِکر شوي دي. کوشش اوکړئ او دا کتاب پوره اولولئ! اوس تاسو ته د اولیائے کرامو یو څو ښکلي عادتونه بیانووم:

## (1): د قرآن او سنت کامله پيروي

د اوليائے کرامو يو مبارک عادت دا دے چې دا د اوچتې مرتبې والا حضرات په هره معامله کښې د قرآن او سنت پيروي کوي بلکه علامه شعراني رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه خو دا هم ليکلي دي چې اوليائے کرام کوم کار هم کوي، تر څو پورې چې خاص د هغه کار په باره کښې د قرآن او سنت نه راهنمائي حاصله نه کړي، تر هغه وخته پورې هغه کار بالکل نه کوي.

سُبۡحٰنَ الله! دا څومره ښکلے عادت دے او مونږه دا عادت په آسانئ سره خپلولے هم شو، بس خپل ذهن جوړول دي چې کله هم څه داسې کار کول وي د کوم چې څه شرعي حکم مونږ ته معلوم نه وي، هغه کار کول شرعاً جائز دے که نه، مونږ ته که چرې د دې عِلم نه وي نو وړومبے شرعي راهنمائي واخلو! بيا هغه کار اوکړو! که چرې مونږه دا عادت خپل کړو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! د ډيرو زياتو ګناهونو نه به بچ شو او د ډيرو زياتو نقصانونو نه به هم **محفوظ** پاتې شو، چې کوم کار هم کول وي، خپل عادت جوړ کړئ چې د شرعي راهنمائيئ نه بغير به هغه کار نه کووم. د دې د پاره که چرې مونږه د دار الافتاء اهلسنت يا د هر يو عاشقِ رسول ماهر مفتي صاحب نمبر د ځان سره **محفوظ** کړو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! آسانه به شي.

## (2): اخلاص

د نيکانو خلقو يو مبارک عادت دا هم دے چې دغه د اوچتې مرتبې والا خلقو به په هر کار کښې د **الله** پاک رضا ته کتل، د رياکارئ نه به ئې ځان بچ ساتلو او هر نيک کار به ئې په اخلاص سره کولو. هغوئي به د دې خبرې هيڅ پروا نه کوله چې خلق هغوئي ښه

ګڼي او که بد، د هغوئي مقصد به صرف او صرف د **الله** پاک رضا حاصلول وو.

## غیر مسلمه کلمه اووئیله او مسلمان شو

د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت عليُّ الـمُرتضیٰ، شیرِ خُدا رضی الله عنه دا واقعه ډیره مشهوره ده، یوه ځل هغوئي د جنګ په حالت کښې وو، د یو کافِر سره ئې جنګ روان وو، حیدر کرّار رضی الله عنه هغه قابو کړو، نزدې وه چې هغوئي رضی الله عنه هغه دوزخ ته رسولے وے، په دې کښې هغه جُرأت اوکړو او په هغوئي رضی الله عنه باندې ئې (مَعَاذَالله! ) لاړې ورتو کړې. اوس خو پکار دا وه چې هغوئي رضی الله عنه هغه ته نور هم غصه شوے وے او هغه ته ئې د مخکښې نه زیات تکلیف رسولے وے مګر هغه خو مولائے کائنات رضی الله عنه وو، هغوئي هغه غیر مسلمه پریښودو. دا ئې چې اولیدل نو هغه ډیر حیران شو چې دا څه قیصه ده؟ زما په حرکت خو دوئي له غصه ورتلل پکار وه خو دوئي خو زه اُلتا معاف کړم. هغه چې کله د حضرت مولا علي رضی الله عنه نه د دې حکمت پوښتنه اوکړه نو هغوئي اوفرمائیل: ما توره صرف او صرف د **الله** پاک د رضا د پاره راخستې ده، زه د خدائے د حکم بنده یم، زه د خپل ذات بدله نه اخلم. دا ئې چې واوریدل نو هغه کافر دومره متاثره شو چې کلمه ئې اُووئیله او مسلمان شو.

## د 30 کالو لـمونځونه ئې بیا اوکړل

دغه شان د یو بزرګ رحمۃ الله علیه معمول وو چې همیشه به ئې په وړومبي صف کښې لـمونځ ادا کولو، یوه ورځ اتفاقاً په آخري صف کښې اودریدو نو په زړه کښې ئې خیال راغلے چې نن ما خلق په آخري صف کښې اُوویني نو څه به وائي. د دې خیال په راتللو هغوئي [د عاجزئ په طور] دا اوګڼله چې ما خومره لـمونځونه په وړومبي صف کښې

کړي دي، هغه مې خلقو ته د ښودلو د پاره کړي وو [ګڼې زما په زړه کښې د خلقو خیال ولې راغلو]، ځکه به د 30 کالو لمونځونه بیا راګرځووم.

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د **الله** پاک د نیکانو بندګانو. شرعي مسئله دا ده چې که چرې لمونځ کښې داسې خیال راشي نو لمونځ بیا راګرځول ضروري نه دي خو د **الله** پاک د نیکانو بندګانو دا تقویٰ هُم د هغوئي حصّه وه. خیر! مونږ له هم پکار دي چې د ریاکارئ نه او نورو ته د ښودلو نه بچ اوسو او همیشه په هر کار کښې د **الله** پاک د رضا خیال ساتو.

| | |
|---|---|
| بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یا الٰہی! |
| مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی! |
| عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یا خدا! یا الٰہی! |

## (3): ذاتي دښمني به ئې نه ساتله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د **الله** پاک د نیکانو بندګانو یو ډیر ښکلے عادت دا هم وو چې هغه نیکانو خلقو به د چا سره هم ذاتي دښمني نه ساتله، د هغوئي د دوستئ او دښمنئ معیار به هم د **الله** پاک رضا وه یعني دغه حضراتو چې به د چا سره دوستي کوله نو د دنیا د پاره نه، د مال د پاره نه، د ظاهري ټِپ ټاپ وغیره د پاره نه بلکه د **الله** پاک د رضا د پاره به ئې د ښو او نیکانو خلقو سره دوستي کوله او که چرې څوک به ئې په زړه کښې بد ګڼلو نو هغه به هم د خپل ذات د پاره نه بلکه د **الله** پاک د رضا د پاره یعني د **الله** پاک د دښمنانو سره به ئې دښمني کوله.

افسوس! نن سبا ورور د ورور ګریوان ته لاس اچوي، پلار او ځوئ جګړې کوي،

ګاونډيان په خپل مينځ کښې په مينه محبت نه اوسيږي، د عزيزانو خپلوانو سره **مړے ژوندے** پريږدي، جنګ جګړې په معاشره کښې زياتيږي او د دې جګړو بنياد څه دے؟ ذاتي بغض، کينه، حسد، د دنيا مال او دولت...!! کاش چې مونږه د خپل نفس دپاره جګړې کول پريږدو، چې زمونږ د ژوند معيار صرف او صرف د **الله** پاک رضا حاصلول جوړ شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! معاشره به د امن او سکون نه ډکه شي.

## د ايمان مضبوطه رَسئ

يو ځل مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل خوږ صحابي حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللهُ عَنْه نه پوښتنه اوکړه: يَا اَبَاذَرٍّ اَيُّ عُرَى الْاِيْمَانِ اَوْثَقُ؟ اے ابوذره! د ايمان د ټولو نه مضبوطه رسئ څه ده؟ عرض ئې اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم **الله** او د هغه رسول بهتر پوهيږي. اوئې فرمائيل: د **الله** پاک د رضا د پاره محبت او هم د **الله** پاک د رضا د پاره دښمني کول. (1)

## اوس خو بس لالچ پاتې دے

**کاش!** چې زمونږه هر تعلق خالص د **الله** پاک د رضا د پاره شي...!! ګنې حالات نازک دي. حضرت احمد بن حسن جريري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په **مخکښنئ** زمانه کښې د خلقو په خپل مينځ کښې د معاملاتو تعلق په دين باندې وو، تر دې چې دين کمزورے شو (يعنې په زړونو کښې د دين اهميت په کميدو شو)، په دويمه زمانه کښې خلقو د وفا په ذريعه معاملې چلولې، تر دې چې وفا ختمه شوه، په دريمه زمانه کښې خلقو د مُرَوَّت [د بل د مخ په خاطر ساتلو] سره معاملات کول، تر دې چې مُرَوَّت هم ختم شو او اوس د

1 ...شعب الايمان، باب في مباعدة الكفار والمفسدين، جلد:7، صفحه:70، حديث:9513۔

لالچ او ویرې نه سیوا هیڅ پاتې نه دي. [1]
**الله** پاک دې مونږه د حرص او هوس، ذاتي دښمنۍ او جنګ جګړو نه **محفوظ** اوساتي.
اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم .

## (4): ایثار [قرباني]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د **الله** پاک د نیکانو بندګانو یو مبارک عادت دا هم وو چې دې حضراتو به ځان باندې نورو ته ترجیح ورکوله، اګرچه پخپله به ورته تکلیف رسیدو خو دوئي به نورو ته د سکون رسولو کوشش کولو.

## د ایثار یو ډیر اعلیٰ مثال

حضرت نُوري، حضرت رقام او حضرت ابو حمزه رحمۃ اللہ علیہم، دا درې واړه صوفیان بزرګان دي، د یو ځلمې واقعه ده چې د خلیفه یو وزیر د صوفیائے کرامو دښمن شو، هغه د دې دریو واړو بزرګانو په باره کښې خلیفه ته دروغ اُووئیل او خلیفه د دې دریو واړو بزرګانو قید کولو حکم اوکړو. دا درې واړه بزرګان خلیفه له راوستے شول، خلیفه حکم اوکړو، د دریو واړو نه سرونه قلم کړئ. په حکم باندې عمل شروع شو، جلاد توره راویستله او راوړاندې شو او د ټولو نه مخکښې ئې حضرت رقام رحمۃ اللہ علیہ شهید کول غوښتل، دا چې ئې اولیدل نو دویم بزرګ حضرت نُوري رحمۃ اللہ علیہ په تادئ سره راپاڅیدو او د حضرت رقام رحمۃ اللہ علیہ په ځائے د تورې مخې ته کښیناستو، جلاد اووئیل: اے سړیه دا تُوره څه لوبې نه دي. حضرت نُوري رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائیل: تهٔ ټیک

[1]...احیاعلوم الدین، کتاب آداب الالفۃ والاخوۃ، جلد:2، صفحہ:204۔

**وائي خو په دنيا کښې د ټولو نه خوږ خيز ژوند دے او زه غواړم چې د ژوند چې باقې پاتې کومې ساه ګانې دي هغه د خپلو وروڼو د پاره قربان کړم.**

خليفه چې کله دا خبره واوريدله نو په معامله پوهه شو، چنانچه قاضي ته ئې د دې بزرګانو په باره کښې د تحقيق کولو حکم اوکړو، آخر دا چې درې واړه بزرګان په عزت سره بري کړے شول. (1)

آج ہے اِیثار کا جذبہ جو پروانوں کے پاس | تھی کبھی یہ دولتِ بیدار اِنسانوں کے پاس

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے ايثار...! مونږ له هم پکار دي چې د يو بل نه د زياتې قربانۍ ورکولو عادت جوړ کړو! نورو ته د راحت رسولو ذهن جوړ کړو، کله چې مونږه د خپلو مسلمانانو وروڼو سره داسې مخلصان شُو، د هغوئې د پاره د قربانۍ ورکولو ذهن جوړ کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د يو بَل محبت به مو په زړونو کښې زياتيږي، مسئلې به حل کيږي او که الله پاک اوغوښتل نو معاشره به د امن او سکون نه ډکه شي.

جذبۂ اِیثار دِل میں ہو اگر | مسئلوں کا حل نکلتا جائے گا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نيکانو خلقو دا يو څو مبارک عادتونه مونږ واوريدل، مونږ له پکار دي چې مونږه دا عادتونه خپل کړو، د دې سره سره نيکان خلق خپل آئيډيل هم جوړ کړو. د صحابۀ کرامو عليهم الرّضوان دا مبارک ارمان کوم چې مونږ د بيان په شروع کښې واوريدو چې صحابۀ کرامو عليهم الرّضوان اووئيل:

1...كَشْفُ الْمَحْجُوب مترجم، صفحہ:274و275بتغيرٍ قليلٍ۔

وَ نَطْمَعُ اَنْ یُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِیْنَ ﴿۸۴﴾ (پاره:7، سورهٔ مائده:84)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مونږ طمع لرو چې زمونږه رب به مونږه د نيکو خلقو سره جَنَّت ته داخل کړي.

کاش! چې مونږ ته په خپلو زړونو کښې دا جذبه زياتيدل نصيب شي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم .

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرَسَةُ الْمَدينه بالِغان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو او د نيکانو خلقو په لاره باندې د تللو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره وابسته اوسئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مدرَسَةُ الْمَدينه بالِغان هم دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي زيرِ انتظام جماتونو کښې، سکولونو او کالجونو او مارکيټونو وغيره کښې لګيدونکو مدارِسُ الْمَدينه کښې اسلامي ورونړو ته د تجويد سره قرآن کريم لوستل ښودلے شي او ورسره بنيادي ضروري احکام او مسائل او سُنت او آداب هم ښودلے شي.

## فيشن پرست په سُنتو عمل کوونکے جوړ شو

د بلوچستان د اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې زه ډير فيشن پرست ووم، په مخ مې نه ګيره نه وه او نه مې په سر باندې عِمامه شريفه وه، د سُنّتو د لارې نه لرې د دُنيا په محبت کښې مې

مست خپل قیمتي ژوند د بے عملۍ او جهالت په تِیارو کښې تیرولو. زما په ژوند کښې رڼا څه داسې راغله چې یوه ورځ د دعوتِ اسلامي د دیني ماحول سره تعلق لرونکي یو اسلامي ورور ما له د تجوید سره د قرآنِ پاک د لوستلو ترغیب راکړو، د ماسخُتن د لـمانځه نه پس لګیدونکې د اسلامي ورونړو په مدرَسَةُالْمَدینه بالغان کښې ئې د شرکت کولو دعوت راکړو، ما د هغه د نیکۍ دعوت قبول کړو او د اسلامي ورونړو په مدرَسَةُ الْمَدینه بالغان کښې مې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې په برکت سره ما د تجوید سره قرآنِ کریم زده کړو او فیشن مې پریښودو او په سنتو عمل کوونکے جوړ شوم.

یہی ہے آرزو تعلیمِ قرآں عام ہو جائے | تلاوت کرنا صُبح و شام میرا کام ہو جائے

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دې شي جوړه د سنتو مدینه خوږه آقا | جنت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

[1]...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔



www.dawateislami.net

# د سلام کولو سُنَّتونه او آداب

**د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: اَلسَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ:** سلام د خبرو اترو نه مخکښې دے. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مسلمان سره د مُلاقات په وخت سلام کول سُنَّت دي ❀ د سلام کولو په وخت دا نيت کول پکار دي چې چاته سلام کووم **د هغه مال او عزت هر څه زما په حفاظت کښې دي** او زه په دې کښې په هر څيز کښې مداخلت کول حرام ګنړم ❀ په ورځ کښې چې څو ځل هم ميلاويدل وي، يوې کمرې وغيره ته بيا بيا تلل راتلل وي هلته موجودو مسلمانانو ته سلام کول **د ثواب کار** دے ❀ په سلام کښې **مخکښې کيدل** [يعنې وړومبے سلام کول] **سنت** دي ❀ وړومبے سلام کوونکے د تکبر نه بَري [يعني آزاد] دے. ❀ په اول سلام کوونکي باندې **90 رحمتونه او په جواب ورکونکي باندې 10 رحمتونه نازليږي.** ❀ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وئيلو سره 10 نيکئ ميلاويږي. چې ورسره وَرَحْمَةُ اللّٰهِ هم اووئيلے شي نو 20 نيکئ به شي. او چې ورسره وَبَرَكَاتُهٗ شامل کړئ نو 30 نيکئ به شي. ❀ دغه شان په جواب کښې د وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُه وئيلو سره 30 نيکئ حاصليدے شي ❀ بعضې خلق د سلام سره د جَنَّتُ الْمَقَام او دوزخُ الحرام تړکي هم زياتوي دا غلطه طريقه ده او دا جمله د لغت په لحاظ سره هم غلطه ده بلکه بعضې بدمسته خلق خو مَعَاذَاللّٰه! په تهوقو کښې تر دې پورې وائي چې **ستا بچي زمونږه غلامان. اعلٰی حضرت** امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په فتاوي رضويه جلد 22 صفحه 409 کښې فرمائي: کم از کم اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ او د دې نه بهتر

1...ترمذی، کتاب:الاستئذان، باب:ماجاءفی السلام قبل الکلام، صفحہ:635، حدیث:2699۔

وَرَحْمَةُ الله ميلاوهل او د ټولو نه بهتر وَبَرَكَاتُهُ شاملول دي او په دې باندې زياتي څه نشته. سلام کوونکے که اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اووئي نو جواب ورکوونکے دې وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ الله اووائي او که چرې سلام کوونکے اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله اووائي نو جواب ورکوونکے دې وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه اووائي او که سلام کوونکي د وَبَرَكَاتُه پورې اووئيل نو جواب ورکوونکے دې هم دغه همره اووائي د دې نه زيات څه نشته ❁ د سلام جواب فوراً او په دومره آواز کنبې ورکول واجب دي چې سلام کوونکے ئې واوري ❁ د سلام او د سلام د جواب صحيح تلفُّظ ياد کړئ. اول ئې زه وايم او تاسو ئې واورئ او بيا ئې اووائيئ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ (اَس. سَلا. مُ. عَلَيْ. كُمْ) اوس زه اول جواب وايم بيا ئې تاسو اووائيئ: وَعَلَيْكُمُ السَّلَام (وَ. عَ. لَيكُ. مُس. سَلام). [(1)]

رضائے حق کے لئے تم سلام عام کرو | سلامتی کے طلب گار ہو سلام کرو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د بهارِ شريعت جلد 3 نه شپاړسمه حصه او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د 91 صفحو کتاب 550 سنتيں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اِسلامي مدنى قافلو کنبې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر هم دے.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّى الله عليه واٰله وسلّم.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 30-32۔

# د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صلّی الله عليه واله وسلّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صلّی الله عليه واله وسلّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رضی الله عنه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّی الله عليه واله وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرگانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵